پوهنمل حاجی محمد نوزادی

نیټه 15/12/2009

# سیاسی ګوندونه په یوه بل ازمایښت کی

دادی یوار بیا دسیاسی ګوندونو مشران دیوه ازمون مخ ته ودریدل . دا ازمون که له یوی خوا دوی ته نوی چلنج دی خو له بلی خو دا ورته یو ښه چانس هم دی چی سرخپل ګریوان ته ور دننه ، خدای ته مخ او بنده ګانو ته شاکړی او دتیرو څو کلنو خپلی بی ګټی هلی ځلی ترنظر تیری کړی . تر اوسه پوری خو دګوندونو دلیکو او پرګنو دغوښتنو سره سره دنژدی ټولو موجودو ۱۱۰ ګوندونو مشرانو دوطن ملی ګټی دخپل شخصی مقام دساتلو په خاطر قربان کړی ، ګوندونه یی په یوه بی اغیزه ګروپی حالت کي ساتلی ، په یوه یا بله پلمه یی دملی او دموکراتیکو وطنپالو قوتونو دسره یو ځای کیدو مخه نیولې ده . داچی دګوند ټاپه یی په جیبونو کی ده او ګوند یی پنامه راجستر دی نو دخپلو لیکو د جوړونکو وړاندیزونو او هیلو هیڅ پروانلری او ټوله انرژی یی پدی لاره په کار اچولې څو دخپل مقام نه دفاع او ساتنه وکړی .

دسیاسی ګوندونو په اړوند قانون کی نوی رامنځته شوی بدلونونه کولای شی دنوموړو ګوندونو مشران داخل دمجبوریت له مخی ودی ته اړباسی چی نور له خپلو لجبازیو نه لاس واخلی او دټولنی عینی واقعیتونو ته غاړی کښیږدی . په قانون کی راغلی نوی بدلونونه دوی ته یوازی شپږ میاشتی مهلت ورکوی چی ځانونه دسره دلږ تر لږه لسو زرو غړو په درلودلو راجستر کړی ، کنه ددغه فرصت تر تیریدو وروسته به لغو او منحل وګڼل شی . زما په اند دا یو نسبتاً منطقی شمیر دی ځکه یوه سیاسی ګوند ته به سخته وی چی لدی نه په کم شمیر سره دهیواد په سرترسری سیاسی بهیر کی داغیز درلودلو توان ترلاسه کړی .

دری کاله وړاندی ما په خپله یوه لیکنه کی د ( ناهیلی اوولس او د سیاسی ګوندونو بی اغیزه سیاست ) تر سرلیک لاندی دیولړ منطقی لاملونو اود ټولنیزو - سیاسی اړتیاوو له مخی دسیاسي ګوندونو پرمشرانو ږغ کړی وو چی خپل لویوالی دیوه واړه ګوند ( ګروپ ) په مشرتوب کی نه بلکه دیوه ستر او پیاوړی ګوند په غړیتوب کی ولټوی . ښکاره خبر ده چی پدی کارسره به خامخا یوشمیر مشرانو خپل مقام له لاسه ورکړی وای خو ملی او وطنپالو دموکراتیکو قوتونو به داوولس دښیګڼو او لوړو ګټو په لور پیاوړی ګامونه اخیستی او ټاکلی رول به یی لوبولی وای .

اوس دنوی بدلون له مخی دا مشران دیوه ازمایښت په وړاندی ودریدل . په همدی خاطر غواړم دخپلی هم هغی پخوانۍ لیکنی بستیزټکی چی تر اوسه لا په کمپیوتر کي راسره پاته دی ، یوځل بیا دسیاسی ګوندونو دلیکو تر غوږه ورسوم څوپرخپلو سرزورو مشرانو باندی زور واچوی او پدی یی پوه کړی چی د ورکیدو او یا سره یوځای کیدو تر منځ انتخاب وکړی . دریمه لاره نشته .

دپخوانی قانون له مخی ګوندونو حق درلود د ۷۰۰ تنو غړو په درلودلوسره ځانونه په رسمی توګه راجستر کړی . داخبره که دیوی خوا لدی کبله په زړه پوري ده چی په هیواد کښی داوږده تاوتریخوالي او ورانونکو جګړو وروسته د دموکراسی مور حمل اخلي ، بچیان زیږوی او دټولنی دژوند په نژدی هره برخه ددی نوی پدیدی نښی نښانی ترسترګو کیدلای شی . خو دبله پلوه داهم یو تجربه شوی واقعیت دی چی څومره دیوی مور روغتیا بشپړه وی ، په هغه پیمانه ئی ماشوم روغ رمټ وی ، جسمی اوذهني انکشاف ئی د ډاډ وړ او دزیاتو ناروغیو په مقابل کی مقاومت لری . او هرڅومره چی مور ناروغه وی ، ماشوم ئی ضعیف اوحتی فلج راځی اوکیلای شی دژوند تر پایه دبل د اوږو بار وی .

له بده مرغه په افغانستان کی د دموکراسی د سکې دغه دوهم مخ برجسته ، څرګند او رنګین دی . پرځواني تر لاسه شوی دموکراسي باندی له بلوغ نه وړاندی دروند بار واچول شو او دیوی پخی مور غوښتني تری وشوی ، دغه فشار هغه دناروغې تر پولې ورسول او بیله دی چی درملني ته ئی پاملرنه وشی ، ورڅخه ناوړه ګټه اخیستل کیږی . داهم دیادونی وړده چی دسیاست په ډګر کی د ګوندونو پر زیږولو باندی که روغ وی یا ناروغه ، کنترول راوستل داساسی قانون ترپښو لاندی کول دی . ددی خبری پایله داده چی ناروغ بچیان یو په بل پسی په ناروغ چاپیریال کی زیږی او دناروغی مور په غیز کی دناروغ پرستار تر نیمګړی پاملرنې لاندی خپل نیم ژواندی ژوند داسی پرمخ بیائی چی نه مړه وی اونه ژوندی ، خو دنورو ژوندیو کسانو رزق خوری .


افغان جرمن آنلاین تاسو په درنښت همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې ښې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

که چیری واقعیت ته نژدي یو دلوړی کچی اټکل په پام کی ونیسو چی دافغانستان نفوس ۲۵ میلیونه تنه وګڼو ، لدغو څخه ئی ۲۰% دنسبتا مناسب سواد درلودونکي کسان وبولو ، نودابه شی ۵ میلیونه تنه . که داسی په نظر کی ونیسو چی لدغو باسواده کسانوڅخه ۲۰ % دفعال سیاست کولو مینه وال دی ، دابیا یوازی یو میلیون تنو ته رسیږی . لدغي ډلی نه کولاي شو نژدی ۵۰ % په کابل ، ۴۰% په نورو لسو لویو ولایتونو او یوازی ۱۰% برخه ئی په پاتو ۲۴ ولایتونو کښی ولټوو .

ددی ټولنز سیاسی پرنسیپ په پام کی نیولو سره چی یو سیاسی ګوند هغه وخت کولای شی په سیاست کی کوټلی واغیزمن ګامونه واخلی ، کله چی :

الف - په ټول هیواد کښی سرترپایه ریښی وځغلوی .
ب - دهیواد په کچه یوه ملی تګلاره ( خط مشی ، برنامه ، مرامنامه ) ولری .
ج - مشرتابه اولیکی ئی وملی ګټوته وفاداره کسان وی .
د - کړه وړه ئی دملي ، سمتی ،ژبنی تعصبونو او نورومنفی تمایلونو څخه پاک وی .
ه - پراخ سیاسی لیرلید ولری او دتنګو کوڅو څخه ئی مخ اړولي وی .
و - ټول ارګانونه ئی له کښته نه ترپورته پوری د دموکراتیکو ټاکنوله لاری منځته راغلی وی .

همدا اوس په افغانستان کی نژدی ۱۱۰ ګونده په رسمي ډول راجستر شویدی او داټوله ګوندونه اړدی چی دلوړو پرنسیپونو پر بنسټ خپلي لیکی پراخی او دهغوی په مټ دهیواد ترهره ګوټه ځانونه ورسوی . نو ایا داکار دپورته یادو شوو فیصدیو سره انډول لګولای شی ؟ په طبعي توګه به ځواب منفی وی . د بله لوری په ټولنه کښي نژدی د درو لسیزو ناخوالو ، سیاسی چاپیریال دومره کرغیړن کړی چی ځوانی اوبی تجربی دموکراسی لا تر اوسه داتوان ندی موندلې ترڅو په سیاسی ډلو کښی سیاسی زغم وروزی او سیاستوال یو د بل منلوته وهڅوی .

ددغو بد مرغیو پایله داده چی سیاسی ګوندونه تش پنامه بی اغیزی پاته او دهیوادپه سیاسی بهیر کی خپله دنده نشی ترسره کولای . هغه ژوندی موجود چی دخپلی دندی دترسره کولو وړتیا نلری ، یوناروغ موجود دی . دا ډول ګوندونه نه یوازی په ټولنیزی - اقتصادی پرمختیا اوسیاسی ودی کښی رول نشی

لوبولای ، بلکه دټولنی پر اوږو یو دروند پیټی دی او ددغه درانده بار لویه برخه ګوندی لیکو پرغاړی اخیستې وی او لکه یوفلج اوناروغ زیږیدلی ماشوم چی نه ئی څوک خوشي کولای شی اونه ئی هم د درملنی لاری چاری ورته معلومی وی . دا پیټی لا هغه وخت زیات درنیږی چی دګوند مشرتابه دځان غوښتنې په مزمن مرض اخته اولیکی ئی سرګیچه دمایوسی په طو فان کښی غوټې وهی .

داخبره هم دپام وړ ده چی دډیرو سیاسی ګوندونو دنااغیزمنتوب یوبل مهم لامل هم اقتصادی بیوسې ده . دوی داقتصادی توان دلوړولو دپاره کورنی امکانات نلری او دبهرنی امکاناتو په مټ دا وړتیا ترلاسه کول بیا ددوی ملی کړو وړو ته زیان رسوی . که څه هم ځینی ګوندونه ، کوم چی دساړه جنګ پرمهال ئی دځینو دولتونو اواستخباراتی ادارو څخه بی حسابه مالی مرستی ترلاسه کړی اویائی دنجیب الله تر پرزولو وروسته دهیواد پربانکونو باندي قبضه پلاس راوړی اودخپلی خوښی سره سم ئی دروسیې په امنیتي او مافیاوی کړیو کښی دپیسو دچاپولو توان درلود ، دوی اوس هم بشپړه اقتصادی وړتیا لری . خوداچی داډول ګوندونه د جنګونو په جریان کی دځانګړو موخو پخاطر منځته راغلې ، نو هلته دهغو شرایطو سره برابر داسی کسان راټول شویدي چی اصلا جنګی ډلی او په نورمال حالت کی دسیاسی مبارزی دهیڅ شکل سره بلد تیا نلری . ځکه نو ددغو ګوندونو توان دمنفی اغیزی ښندلو په موخه پیاوړی دی چی لدی کبله ئی زیان دنورو اقتصادی ناتوانه ګوندونو په پرتله د دموکراسې څخه په ناوړه ګټه اخیستلو او د نورمال دموکراتیک بهیر دپرمختګ په ورانولو کښی څوبرابره زیات دي .

اصلې خبره داد چی ګوندونه د وران ویجاړ هیواد په بیارغونه او سیاسی ټیکاو کی ترهغه ځایه چی ددولت پلانونه دخپلو تګلارو ( مرامنامو ) له مخی دتائید وړګڼی ، باید په ترسره کولوکښی ئی مرسته ورسره وکړی او په هغو چارو کی چی ئی کړنی ګټوری نه بولي ، باید دسیاسی لارو په زړه پوری مشوری ورکړی او دسیاسي مبارزی داړینو شکلو څخه په کاراخیستلوسره ټولنزذهنیتونه وروزی ، دموکراسی پخه او وده ور کړی ، نه داچی دا نیمګړتیاوی بهانه وټاکی او دټیکاو ورانولو ته پښی را لوڅې کړی .
که داخبره منو چی دموکراسی دیوه سیاسی سیستم دپاره ترټولو غوره اومنل شوی لاره ده ، نوپه ټولنیز نظام کی


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

دسیاسی ګډون په موخه ګوندی پلورالیزم او دګوندونو جوړول هم یوه اړینه موضوع ګڼل کیږی . پدی هیله بیا څنګه کیدلای شی منځته راغلو ګوندونوته د سیاسی اغیزې ښندلو رول پلاس ورشی ؟

دسیاسی څیړونکو په اند ، پکارده چی ټول ګوندونه پردریو ډلو وویشل شی :
۱ - کیڼ لاسی ګوندونه .
۲ - منځ لاری ګوندونه .
۳ - ښی لاسی ګوندونه .

پدی ډلو کی به ګوندونه دخپلو تګلارو ( خط مشی ، مرام ) دنژدیوالي له مخی سره ټولیږي او ددی دپاره چی نوموړی ډلی په خپلو منځونو کښی ژر ګډ نظر اوپریکړوته ورسیږی ، باید دتګلارو دورته والي پربنسټ یو په بل کی ورګډ اولوی واحد ګوندونه جوړ کړی . په هره پیمانه چی دګوندونو شمیر دسره ګډیدو لامله کمیږی ، په هم هغه پیمانه ئی دغړو شمیر زیاتیږی ، دهیوادهر ګوټ ته ریښی ځغلولای شی ، دپسیف حالت نه پاڅیږی اوپدی توګه ئی اغیزمنتیا لوړه ځی اوپه ټولنه کی سیاسی اعتماد اواعتبار پلاس راوړی . یوازی پردغه ډول ګوندونو باندی اولس حساب کولای شی او دراتلونکی په هکله خپلې هیلې ورپوری تړلای شی . دانوهغه لاري دی چی له مخی ئی ګوندی غړی دخلګو نه رايي ترلاسه کولای اوپه سیاسی سیستم کی خپله برخه اخیستلای شی . داګوندونه نور ژوندی ، فعال او دمعیوب ماشوم په څیر دټولنی داوږو بار ندی.

داوسني موجودو ګوندنو له ډلي نه د یو دوو درو نه پرته چی دافراطی توپیریزو مفکورو پربنسټ منځته راغلي دی ، نور ټول ئی په درو لوړو سیاسي ډلو کښی دخپل وزن سره سم ځانو ته مناسب ځایونه موندلای شی . داځکه چی داکثرو ګوندونو نه یوازی تګلاری بلکه نومونه ئی هم دومره سره نژدی او ورته دی چی حتی هغه کسان ئی لاهم یو له بله سره غلطوی ، کوم چی دسیاست مینه وال او دسیاسی ګوندونو سره اړیکی لری . د سیاسی څیړونکو له نظره یوازنی ډیر مهم لامل چی دګوندونو دسره نژدیوالي او یووالي په کار کښی خنډ ګرځیدلي ، هغه په یولړ ګوندونو کی د داسی مشرانو شتوالي دی چی یا په اوسني شرایطو کښی دسیاسی اړتیاوو په هکله دپوهیدو توان او وړتیا نلری او یا دعقدو نه ډک ، پرځان مین او دخپلو طبعی متحدانو سره په یوځایوالي کی دخپل مقام دلاسه ورکولو څخه په ډارکی دی . ځکه نو د ذهنیتونو دغولولو پخاطر راز راز پلمي جوړوی ، کله دا ډله کله هغه ډله په ناوړو نومونو یادوی او په یوه یا بل ډول تورونو ئی توروی او ځانونه د وطنپرستی ټیکه داران ټاکی .

ګوندی لیکی باید دی خبری ته پام وکړی چی د زوریدلي اوناهیلي اولس غوښتني یوازی او یوازی دټولو دموکراتیکو قوتونو دګډ کار ، سره یوځای کیدو او یووالي پربنسټ ترسره کیدلای شی . پدی خاطر نو د دغه ډول ګوندونو لیکو ته پکارده دهمدغه ټکي په پام کی نیولو سره خپل کمزوری مشران پدی پوه کړی چی په قانون کی دنوو بدلونونو له مخی ددوی پرمخ دریمه لاره نوره وتړل شوه او یوازی دوی لاری ورته خلاصی دی : یا به یو کیږی او یا ورکیږی .
په مینه اوپیرزوینه . پای .


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکني د لیکنیزې ښې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ